# ولې سوسیالیزم؟

## البِرت انشټین

ژباړه: مبارز فولاد

ولې سوسیالیزم؟
البِرت انشټین
ژباړه: مبارز فولاد

زه پدې باور یم چې د دې سترې بلا د منځه وړلو لپاره یوازې یوه لار شته او هغه د یوه سوسیالیستي اقتصاد استقرار، د یوه داسې ښوونیز نظام سره چې ټولنیزې موخې په پام کې ونیسي. پدې ډول اقتصادي نظام کې د تولید وسایل د ټولنې په واک کې وي او دغه وسایل د یوې منظمې برنامې له مخې په کار وړل کیږي. یو پلان شوی اقتصاد، چې تولید د ټولنې د اړتیا سره سم تنظیم کړي، کار د ټولو هغو کسانو تر منځ چې د کار کولو وړتیا لري، وویشي او د هر نارینه، ښځینه او ماشوم ژوند پر غاړه واخلي. په دې نظام کې د هر فرد د ښوونې او روزنې برسېره هڅه کیږي ترڅو په دوی کې د نورو انسانانو په وړاندې د مسؤلیت حس وروزي...

## ولي سوسیالیزم؟

## البرت انشټین

آیا د هغه چا لپاره یې ښه ګڼۍ، چې د اقتصادي او ټولنیزو مسائلو په اړه د ناخبرۍ سربیره د سوسیالیزم په اړه خپل نظر څرګندوي؟ زما په اند د څو دلایلو پر اساس د دې پوښتنې ځواب مثبت دی.

پربېږدئ! چې له هر څه تر مخه دا مسئله د خپل علمي شناخت له نظره وڅېړم. ممکن په لومړي سر کې داسي وبریښي چې د اقتصاد او ستورپېژندنې تر منځ هیڅ اساسي میتودولوژیک توپیر  نشته او پوهان په دواړو څانګو کې کوښښ کوي چې ټولمنلي او تطبیقیدونکي عام قوانین د دغو څانګو د پدیدو لپاره په ځانګړې ډول کشف کړي، تر څو وکولای شي چې د د دغو پدیدو تر منځ عام فهمه او روښانه داخلي اړیکې توضیح کړي، خو په واقعي نړۍ کې د دغو دواړو تر منځ میتودولوژیک توپیرونه وجود لري. په اقتصادي ډګر کې د عامو قوانینو کشف خورا ستونزمن کار دی، ځکه د څېړنې لاندې اقتصادي پدیدې، په غالب ګمان د مختلفو عواملو تر اغېزې لاندې دي، چې له یو بل یې جلا کول او څېړل سخت کار دی. له دې پرته، د بشري تمدن په تاریخ کې د تکرار شویو تجربو له مخې، هماغسې چې پوهیږو، د علت او معلول څخه اغېزمن شوي او شکل یې نیولی، چې په هیڅ سبب یوازې اقتصادي ماهیت نه لري. د بیلګې په توګه، ستر دولتونه د خپل رامنځته کېدو تاریخ د مستعمرو مدیون ګڼي. فاتح ولسونو هم د قانوني او اقتصادي پلوه خپل ځانونه د یوې طبقې په توګه په مستعمره شویو هېوادونو کې ځای کړي دي. دوی پر ځمکو د مالکیت انحصار امتیاز ځانته ټاکلی او یوه روحاني طبقه یې د خپلو همزولو څخه را جلا کړې. روحانیون د زده کړو کنترول په غاړه لري، له ټولنې څخه جلا شوې طبقه یې په دایمي بنسټونو اړولې او د ارزښت یو نظام یې رامنځته کړی، چې په وسیله یې د

ولسونو ټولنیز چلند او کړه - وړه پرې هدایت کیږي.

یوه مشهوره مقوله ده چې وایي:- په تېرو پسې مه ګرځه، خو تر اوسه مو واقعاً هغه پړاو چې توریستین وبلن ورته د "بشري تمدن چپاول" نوم ورکړی، تېر کړی ندی. دغه پړاو پورې اړوند اقتصادي بیلګې چې حتی ترې تر لاسه شوي قوانین هم نشو کولای په نور پړاؤنو کې وکاروو. له هغه ځایه چې د سوسیالیزم اصلي موخه هم د بشري تاریخ د لوټلو پر پړاو باندې برلاسی او تېریدل دي، د اقتصاد علم په اوسني پړاؤ کې ندی توانیدلی چې د راتلونکې سوسیالیستي ټولنې په اړه اطلاعات او مالومات زموږ په واک کې راکړي.

دویم؛ سوسیالیزم د یوه ټولنیز – اخلاقي لوري خواته درومي. په مقابل لوري کې، پوهه/علم نشي- کولای، موخې وزیږوي او نه هم لږ تر لږه دا توان لري، چې دا موخې انسانانو ته القا/وروپیژني. علم تر زیاته بریده کولای شي چې ټاکلو موخو ته د رسیدو لپاره وسیلې په واک کې راکړي، خو موخې د لوړو اخلاقي آرمانونو لرونکو شخصیتونو لخوا خلق کیږي، او که چیرې عقیم و عبث نه وي او د پیاوړي او ژوندي ماهیت څخه برخمن وي، د انسانانو د ټولګي په وسیله چې د بشري ټولنې د تدریجي تکامل ټاکونکي دي، که څه هم په نیم خبراوي کې منل شوي او مخکې وړل کیږي.

په دغو دلایلو باید هوښیارو اوسو چې د انساني مسایلو په اړه علمي میتودولوژي ته له حد زیات ارزښت ورنه کړو او داسي تصور ونه کړو چې یوازې [اهل خبره] د ټولنې د سمبالوني اړوند مسایلو پورې د نظر ورکولو حق لري.

له زیاتې مودې راهیسې دا خبرې مو - چې انساني ټولنه له بحران سره مخ ده او تعادل یې له لاسه ورکړی- تر غوږو رارسیږي. له دې وضعیت څخه څرګندیږي چې په ټولنه کې د فرد چلند د افرادو کوچني او ستر ټولګي په نسبت چې دی ورسره تړاو لري،

بې توپیره او دښمنانه دی. د خپلي موخي د توضیح کولو لپاره اجازه راکړئ، د خپلې یوې شخصي- تجربې یادونه وکړم. پدې وروستیو کې مې د یوه هوښیار او اخلاصمند کس سره د یوې بلې جګړې د پیلیدو په اړه چې تر ډېره به زما په باور د بشر- ژوندانه ته ګواښ ورپېښ کړي، مجلس وکړ. پدې خبرو کې مې وویل چې یوازې یو ملي سازمان د دې توان لري چې موږ له دې ګواښ څخه خوندي کړي. زما د دې خبرې په دوام یاد شخص په خورا آرامښت وویل:"ته ولې دومره د بشر- نابود کېدلو سره مخالف یې؟".

پدې باوري یم چې حتی نیمه پیړۍ تر مخه به هم هیچا ځانته دا اجازه نه ورکوله چې دا ډول جمله په دومره آرامښت او بې تفاوتۍ پر خپله ژبه راوړي. دا د هغه چا خبره ده چې خپلې هڅې یې پایله نده لرلې تر څو له دننه څخه تعادل ومومي خو خپله هیله یې د دې تحقق لپاره له لاسه ورکړې ده. دلیل یې څه کېدای شي؟ او آیا د خلاصون کومه لار شته؟

د ورته پوښتنو مطرح کول آسان دي، خو د ډاډمن کېدلو لپاره یې ځوابول ستونزمن دي. که څه هم دې واقعیت باندې په بشپړه توګه خبر یم، چې زموږ احساسات تر ډېره زموږ د هڅو او کوښښونو سره په متضاده او مبهمه اړیکه کې واقع دي او نشو کولای هغه په ساده او سربیرنو قالبونو کې بیان کړو.

انسان آنِ واحد کې یوازې او ټولنیز موجود دی. د یوه یوازې موجود په توګه هغه هڅه کوي چې د خپل ځان او نورو د بقاء او پایښت څخه ساتنه وکړي، خپلې شخصي غوښتنې پوره کړي او خپلو داخلي وړتیاوو ته وده ورکړي. د یوه ټولنیز موجود په توګه بیا د خپلو نورو همنوع د احترام او عاطفې راجلب کولو، د نوموړو خوندونو کې شریک کېدلو، د دوی غمونو تسکین او د ژوندانه د شرایطو د غوره کولو په هڅه کې دی. یوازې همدا هڅې او کشمکش دي چې د فرد ځاني مشخصه ګڼل کیږي او ځانګړی ترکیب

یې دی چې په ټولنه کې د یوه فرد د توان، داخلي تعادل او مرستې درجه ټاکي. دا به بشپړ امکـان ولـري چـې د دې دوو کششـونو نسبي قوت به د ارثي عواملو په وسیله ټاکل شوی وي، خو کوم شخصیت چې په فرد کې راڅرګنـدیږي، معمـولا لـه هغـه چاپیریـال څخه جوړیږي، کوم کې چې نوموړی په ناڅاپي توګه پکښې زیږي، د ټولنې جوړښت ته په کتو پکښـې رالـوییږي، د هغـې ټـولنې د آدابو، دودونو او ارزښتونو څخه اغیزمن وي. د یوه انساني فرد لپاره د ټولنې انتزاعي/ذهني مفهوم خپلـو همزولـو او تېـرو نسـلونو تـر منځ د مستقیم او غیر مستقیم ټکر په مانا دی. فرد کولای شی چې په یوازې سر فکر وکړي، حس کړي، هڅه وکـړي او کـار تـر سره کړي؛ خو د خپلې فزیکي، ذهني او عاطفي بقاء لپاره د ټولنې سره تړلی دی، د ټولنیز چـارچوب څخـه بهـر نشي- کـولی چـې پـرې فکر وکړي او یا یې هم درک کړي. دا "ټولنه "ده چې انسان ته خوراک، پوښاک، مسکن، د کـار لـوازم، ژبـه، د فکـر کولـو هـنر او د فکر محتواء لپارهستره برخه رامنځته کوي. ژوند یې د ژوندیو او پخوانیو میلینونو انسـانانو د کـار او لاسـته راوړنـو لـه املـه پاییـدلی، ځکه چې دوی ټولو د ټولني په نوم کلمې لاندې ژوند کاوه.

نو پر همدې بنسټ ویلای شو چې له ټولنې سره د فرد اړیکه یو طبیعي او بدلون نه منونکی واقعیت دی. لکـه د مچیـو او مېږیـانو طبیعت. که څه هم د مېږیانو او مچیو ژوند په کمو مؤرثي او ثابتو غرایزو باندې تثبیت شوی، خو د انسانانو تر منځ ټـولنیزې اړیکـې او مناسبات خورا متفاوتې او بدلون منونکي دي. د حافظې شتون، انسانانو ته په مختلفو برخو کې د بدلون امکان پـه لاس ورکـړی، چې بیالوژیکي اړتیاؤ پورې تړلی ندی. دا تحولات خپله پـه آدابـو، دودونـو، بنسـټونو او سـازمانونو کـې خپـل ځـان راڅرګنـدوي؛ پـه ادبیاتو، علمي او مهندسي پرمختګونو او هنري کارونو کې. دا واقعیت روښانه کوي چې څرنګه په کـره توګـه د آدم کلمـه کـولی شي په خپلو کړو وړو سره پر ژوندانه باندې اغېزمن وي او په دې لاره کې فکر کول او غوښتنه کوم رول لري.

انسان، د زیږون په شېبه کې په ارثي توګه ټاکلی بیالوژیکي جوړښت لري چې موږ یې باید ثابت ومنو. دغه جوړښت د انسان ټولې طبیعي اړتیاوې په بر کې نیسي. پر دې برسیره انسان د ژوند په اوږدو کې ټاکلی کلتوري جوړښت هم مومي چې دا بیا ټولنې، خپلو همزولو سره د اړیکو او یو شمېر نورو عواملو څخه لاسته راوړي. همدغه ټولنیز جوړښت دی چې د وخت په تېرېدو بدلون رامنځته کوي، همدارنګه د فرد او ټولنې تر منځ اړیکې ټاکي. معاصر انسان پېژندنې له لومړنیو فرهنګونو سره د تطبیقي څېړنو له لارې موږ ته رازده کړي چې د انسانونو ټولنیز کړه وړه، په ټولنه کې حاکمو فرهنګي نمونو او سازماندهۍ سره کېدلای شي، زیات توپیر ولري او هغه خلک چې د انسانانو د وضعیت د سمون لپاره هڅه کوي، خپلې هیلې یې همدغه اصل پورې غوټه کړي. انسانان یوازې د خپل بیالوژیکي جوړښت په اساس د یو بل له منځه وړلو باندې محکوم ندي او په خپل بد فطرت کې، چې سرچینه یې همدا بیالوژیکي بنسټ دی، نه راایساریږي.

کله چې له ځانه پوښتو، څرنګه کولی شو د انسانانو تر منځ د یوه آرام او سوکاله ژوند برابرولو لپاره ټولمنلی ټولنیز جوړښتونو او کلتوري اړیکو ته بدلون ورکړو، باید تل دا وقعیت په پام کې ونیسو، ځینې داسې شرایط شتون لري، چې موږ یې د بدلولو توان نه لرو. لکه چې مخکې مې هم ورته اشاره وکړه، د انسان بیالوژیکي طبیعت –یقین ته نږدې احتمال سره- د بدلون وړ ندی. باید زیاته کړم چې په تېرو څو پیړیو کې ټولنیزو او تکنالوژیکو بدلونونو داسې شرایط رامنځته کړي، چې تر اوږدې مودې به دوام ولري. هغه ټولنې چې زیات د نفوسو تراکم ولري د خپلې پاینښت لپاره زیاتو مالونو ته اړتیا لري، **د کار وېش شدید او د یوه بشپړ متمرکز تولیدي نظام شتون یوه حتمي اړتیا ده.** هغه دوره چې پکښې وګړي او نسبتآ وړوکې ډلې بشپړ ډول په ځان بسیا وي- او کله چې تېر ته وګورو، نو وبه وینو چې څومره لنډ وو- نور د تل لپاره پای ته رسیدلی. دا به اغراق نه وي **چې ووایم بشر- په یو**

**ډول نن ورځ د تولید او مصرف په سیارې اوښتی دی.**

اوس به هم د اوسني بحران د ماهیت په اړه د خپل نظر لنډیز درته څرګند کړم. **دا بحران د فرد او ټولنې تر منځ اړیکې پورې تړلی دی.** نن ورځ له هر وخت زیات فرد، ټولنې سره د اړیکو لړلو باندې پوهاوی تر لاسه کړی، خو دغو اړیکو ته د ګټو، ترکیبي پیوند او ساتونکي ځواک په توګه نه ګوري. برعکس دا خپلو طبیعي حقونو او حتی اقتصادي پایښت لپاره ګواښ ګڼي. باید زیاته کړم د ده ځای په ټولنه کې دومره دی چې له طبیعت څخه راټوکیدونکي ځانغوښتونکي تمایلات یې پوره شي، حال دا چې ټولنیز تمایلات یې، چې طبیعت ته په کتو کمزوري دي، تر زیاته بریده له زوال سره مخ دي. ټول انسانان، له خپلو ټولنیزو اړتیاؤ څخه بهر له دې مخ په ځوړ حالت څخه ځوریږي. **دوی د خپلې ځانغوښتنې/فردیت ناخبره غلامان دي.** د ناامنۍ او یوازیتوب احساس کوي. د ژوند طبیعي ښکلاؤ او خوښیو څخه د خوند اخیستو توان یې له لاسه ورکړی. انسان کولای شي د خپل لنډ او لوړو ژورو لرونکي ژوند مانا تر لاسه کړي، پدې شرط چې خپل ځان ټولنې ته وقف کړي.

**زما په اند؛ په موجوده پانګواله ټولنه کې اقتصادي ګډوډي زموږ پر سر د نازل شوې بلا واقعي سرچینه ده. موږ نن ورځ د تولیدوونکو یوه ستره ټولنه وینو، چې غړي یې له دمې پرته هڅه کوي د خپل ټولنیز کار څخه یو اوبل محروم کړي- هغه هم نه یوازې په زور، بلکه د خپلو ځای کړل شویو قوانینو او مقرراتو پر اساس- .** پدې اړه لازمه ده؛ پاملرنه وکړو چې د تولید وسایل – یانې د ټولنې اړتیا وړ تولیدي ظرفیت د مصرفي او پانګوالي مالونو لپاره- کیدلای شي په قانوني شکل د وګړو په خصوصي مالکیت کې وي، چې همداسې هم دي.

په ساده ژبه د "کارګر"کلمه د ټولو هغو کسانو لپاره کاروو چې د ابزارو تولید برخه کې هیڅ د مالکیت سهم ونه لري، که څه هم

ممکنه ده، چې د دې کلمې پېژندل شوې مانا سره په بشپړه توګه ورته نه وي. **د ابزارو تولید مالک په هغه موقعیت کې دی چې کولای شي د کارګر د کار قوه وپیري. د تولید ابزارو کارولو سره به کارګر تازه مالونه تولید کړي، چې دا بیا د پانګې خاوندانو په شتمنۍ اوړي. د دې لړۍ اساسي ټکی د کارګر د تولید او د ده لاس مزدوري ده، چې د دواړو اندازه نیونې اصلي واحد ارزښت دی. تر کومه ځایه چې د قراردادي د کار قرارداد "آزادانه" دی، هغه چې کارګر یې تر لاسه کوي، د مالونو واقعي ارزښت پر مبناء ندی. بلکه د دوی حد اقل احتیاجاتو او همدارنګه د کار قوې ته د پانګوالي اړتیاؤ له مخې چې پکښې کارګران د خپلو کارونو موندلو لپاره یو او بل سره پکښې سیالي کوي، ټاکل کیږي. دغه ټکي ته پاملرنه خورا اهمیت لري چې حتی په تیوري کې د کارګر مزد د تولید شویو مالونو ارزښت له مخې نه ټاکل کیږي.**

خصوصي پانګه د مرکزیت خواته خورا لږ میلان لري. دا میلان له یوې خوا د پانګوالو تر منځ سیالي له امله او له بلې خوا یې سبب دا دی چې د تکنالوژۍ وده او د کار وېش زیاتوالی ستر تولیدي واحدونه، د وړو تولیدي واحدونو ماتې ته هڅوي. د دې لړۍ پایله د خصوصي پانګې الیګارشي ده. چې هیڅ یو حتی یوه دموکراتیکه سیاسي ټولنه یې هم د دې ستر قوت د مهار کولو توان نه لري. دا ریښتیا هم دی ځکه چې د قانون جوړوونکي غړي د سیاسي حزبونو لخوا ټاکل کیږي، چې دا بیا په عمده توګه، په مستقیم او غیر مستقیم ډول د خصوصي پانګه والو په مرسته د مالي اړخه تمویل کیږي او د دوی د یووالي څخه د قانون جوړوونکي بنسټ/پارلمان تر څنګ یوه ټاکنیزه ډله جوړیږي. نو په پایله کې هغه کس چې د خلکو په استازیتوب ټاکل کیږي، بیا په واقعیت کې د ټولنې د محروم او ځپل شوي قشر د حقونو څخه دفاع نه کوي، بر سبره پر دې، په موجوده شرایطو کې خصوصي پانګه وال د ټولنې په کچه، مستقیم او غیر مستقیم ډول د اطلاعاتو رسونې اصلې سرچینې (خپرونې، رادیو، زده کړه ییز بنسټونه)

په لاس کې لري. دې مسئلې د اوسیدونکو لپاره د سیاسي حقوقو څخه رښتینې تصمیم نیونه او سالمه ګډه اخیستنې چاره ستونزمنه او تر ډېره بریده ناممکنه کړې.

بناء په اقتصاد ولاړ د خصوصي مالکیت پانګونې باندې حاکم شرایط پر دوو مهمو اصلونو ولاړ دي: لومړی، د تولید ابزار (پانګه) د افرادو خصوصي مالکیت کې ده او د پانګې خاوندان یې چې په هر شکل مناسب وګڼي، کاروي یې؛ دویم، د کار قرارداد، آزاد قرارداد دی. البته دا د یوې **نمونه** پانګونې په څېر بهرنۍ شتون نه لري. که څه هم کارګران د خپلو اوږدو سیاسي مبارزو له امله وتوانیدل چې د "کار آزاد قرارداد" اصلاح شوې بڼه په ځینو کارګري برخو کې تر لاسه کړي. د دې برسیره، اوسنی اقتصاد په مجموع کې د "نمونوي پانګوالۍ سره کوم توپیر نه لري.

تولید، د ګټې لپاره کیږي نه د لګښت پر اساس. داسې هیڅ کوم تضمین وجود نه لري، تر څو ټولو هغو کسانو ته چې د کار کولو توان لري، کار ورته پیدا کړل شي. د "بیکارانو لښکر" به تقریباً تل وجود ولري. کارګران به تل د خپل کار د لاسه ورکولو په وېره کې وي او له کومه ځایه چې بیکاران او لږ عاید لرونکي کارګران به ونشي کولی چې بازار ته د خپلو لګښتونو ګټه راوړي، نو له همدې امله د مصرفي مالونو تولید هم له محدودیت سره مخ دی او هغه څه چې له دې پروسې څخه تر لاسه کیږي، د سختۍ، بې وزلۍ او محرومیت څخه پرته بل شی ندی.

تکنالوژیکي پرمختګ د دې لپاره چې د کار فشار پر ټولو کم کړي، بیکاري زیاتوي. د پانګوالو تر منځ د سیالۍ برسیره د ګټې انګیزه د عمومي پانګې د ګټې او ټولولو تر منځ د عدم تعادل اصلي لامل دی چې په شدید اقتصادي رکود/ځوړتیا سره پای مومي. نامحدود رقابت که څه هم له یوې خوا د کار قوې په ستر یووالي تمامیږي له بل لوري د وګړو ټولنیزې ویښتابه د فلج کیدلو لامل

هم کېږي، لکه چې مخکې مې هم ورته اشاره وکړه.

زه د وګړو دا عمومي فلج کېدنه د پانګونې لپاره ستره بلا/آفت ګڼم. ټول ښوونيز نظام له همدې بلا ځخه کړېږي. د زده کړیالانو ذهن ته يو ډول اغراق آميزه سيالي تزريق کيږي او دوی ته داسې ورزده کيږي چې د هڅو او کوښښونو په وسيله د ترلاسه شوې بريا ستاينه د راتلونکې لپاره د چمتووالي يوازينۍ لار ده.

**زه پدې باورمند يم چې د دې سترې بلا د منځه وړلو لپاره يوازې يوه لار شته او هغه هم د يوه سوسياليستي اقتصاد استقرار، د يوه داسې ښوونيز نظام سره چې ټولنيزې موخې په پام کې ونيسي.- پدې ډول اقتصادي نظام کې د توليد ابزار د ټولنې په مالکيت کې وي او د يوې منظمې برنامې له مخې په کار وړل کيږي. يو پلان شوی اقتصاد به، چې توليد د ټولنې د ضرورت مطابق تنظيم کړي، د اړتيا وړ کار د ټولو هغو کسانو تر منځ چې د کار کولو وړتيا لري، وويشي.- د هر نارينه، ښځينه او ماشوم معيشت پر غاړه واخلي. په دې نظام کې د هر فرد ښوونې او روزنې برسېره هڅه کيږي چې په دوی کې د خپلو هم نوعانو/همزولو په وړاندې د مسؤليت حس وروزي.**

**سره له دې ټولو لازمه ده چې په ياد ولرو چې پلان شوی اقتصاد تر اوسه سوسياليزم نه دی. پلان شوی اقتصاد کيدلی شي چې د فرد بشپړې غلامۍ سره مل وي، خو سوسياليزم ته رسيدنه د يو شمېر پيچلو اقتصادي – ټولنيزو مسايلو حل کيدلو لپاره اړينه ده: دا چې څرنګه کولای شو د اقتصادي او سياسي قدرت د شديد تمرکز په شتون کې، د بيروکراسۍ د بلامنازع تسلط او مطلق قادر کېدلو څخه په ټولنه کې مخنيوی وکړو؟ او څرنګه کولی شو په ټولنه کې د وګړو حقونه د يوې دموکراتيکې لارې څخه د بيروکراټيک قدرت په مقابل کې تضمين کړو؟**

د اوښتون په دې پړاو کې د سوسیالیزم د موخو تر لاسه کولو لپاره په مخکې پرتو ننګونو او خنډونو څخه د روښانه لید لرل خورا زیات اهمیت لري. له دې چې په اوسنیو شرایطو کې پر دغې مسئلې له قید او شرط پرته آزاد بحث د حاکمې طبقې تر اغیز لاندې دی، نو له همدې امله د دې مجلې تأسیس ستر خدمت ګڼم.